

# چونـګنبې





چونګښي کوچني حيوانات دي کوم چې په اوبو او ځمکه کې ژوند کولای شي.



چونګښې په اوبو کې زياتې هګۍ اچوي
چې له هغو څخه بيا د چونګښو بچيان
 پيدا کيږي. د چونګښې بچيان د
کوچني ماهي په څېر وي.





د څو اوونیو وروسته دا بچیان لاسونه او لینګي په وده پیل کوي. د شاتني لینګي يې په لوېدو وده کوي او لکۍ يې کوچنۍ کيږي ترهغه پورې چې دغه بچیان په مکمله توګه لوي شي.



چونګښې د خپلې سرښناکو ژبو پر وسیله خواړه خوري. د
حشراتو خوړل د دوی خوښ وي، خو بعضې یې بیا په خپله
نورې چونګښې خوري!



چونګښې یوې بلې ته په خپلو آوازونو غږ کوي.
هر ډول چونګښه یو متفاوت غږ لري.



چونګښې د خپلې شاتنۍ قوي لینګیو په واسطه ښه خېزونه (ټوپونه) وهونکې دي.



چونګښې په زیاتو بېلابېلو رنګونو کې پیدا کیږي. بعضې
چونګښې د پټېدو لپاره له خپلو رنګونو څخه کار اخلي.
آیا تاسو کولای شئ چې په دغه انځور  کې چونګښه ومومئ؟



په راتلونکې کې کله چې تاسو بېرون لاړ شئ، وګورئ چې څو
ډوله چونګښې موندلای شئ!.